د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

# قرآنِ کریم

## صحیح زده کول او ښودل

30 اپریل 2026



# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

**(1)**: په مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بیان: **5** منټه **(2)**: دُعا یادول: **5** منټه

**(3)**: [د خپلو اعمالو] جائزه: **5** منټه، **ټول وخت**: **15 منټه**۔

نن به د زده کولو او ښودلو په **حلقو** کښې په **72 نیک اعمال** کښې **د یو نیک عمل** د **قرآنِ کریم د صحیح زده کولو او ښودلو** په باره کښې ګټه ور معلومات درکولے شي او **په اِیمان باندې د خاتمې دُعا** به یادولے شي۔ په اخره کښې به د نیک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کیږي۔ اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیْم!

## قرآنِ کریم صحیح زده کول او ښودل

## د دُرُود شریف فضیلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے**: د قیامت په ورځ به په خلقو کښې د ټولو نه زیات نزدې ما ته هغه وي چا چې په دُنیا کښې په ما باندې زیات درودِ پاک لوستلے وي۔ **(1)**

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب ❀❀❀ صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## نیک عمل نمبر 18

امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِیَه د قرآن او د سُنَّت مطابق د ژوند تیرولو د پاره د اِسلامي خوئیندو، د اِسلامي ورونړو او د طالبِ علمانو د پاره د سوالونو په شکل کښې د نیک اعمال مختلفې رسالې جوړې کړې دي۔ نن به مونږ د 72 نیک اعمال رسالې نه د **نیک عمل نمبر: 18** په باره کښې زده کوو۔

**نیک عمل نمبر: 18** آیا نن تاسو په **مدرسة المدینه (بالغان)** کښې لوستل یا ښودل کړي؟

[1] ...ترمذی، ابواب الوتر، باب ماجاء فی فضل الصلاۃ علی النبی صلی اللهُ عَلَیْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم، صفحه:144، حدیث:484۔

# مدرسة الـمدينه (بالغان)

د لوئي عمر اسلامي ورونړو ته د صحيح مخارجو سره د قرآن کريم لوستلو او د نمونځ کولو صحيح طريقه ښودلو دپاره د دعوتِ اسلامي لاندې په مختلفو مقاماتو مثلاً: جماعتونو،مارکيټونو وغيره کښې قرآن کريم د زده کولو او ښودلو سلسله کيږي دې ته **مدرسة الـمدينه** (بالغان) وائي-

## آيت مبارک

الله پاک فرمائيلي دي:

اَلَّذِیْنَ اٰتَیْنٰهُمُ الْكِتٰبَ یَتْلُوْنَهٗ حَقَّ تِلَاوَتِهٖؕ اُولٰٓىٕكَ یُؤْمِنُوْنَ بِهٖؕ وَ مَنْ یَّكْفُرْ بِهٖ فَاُولٰٓىٕكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ۠(۱۲۱) (پاره:1،سورةالبقرة:121)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: هٔغه خلق کومو ته چې مونږ کتاب ورکړے دے نو هغوئي د هغې تلاوت کوي څنګه چې د تلاوت کولو حق دے هُم دا خلق پهٔ دې ايمان لري، او څوک چې د دې انکار اوکړي نو هُم هغوئي نقصان اوچتوونکي دي-

پهٔ تفسير جلالين کښې دي چې: د تلاوت د حق معنٰی ده "قرآن داسې لوستل څنګه چې نازل شوے دے، مثلاً: قرآن کريم په عربی ژبه کښې نازل شوے دےنو په عربی لب و لهجه کښې لوستل ضروري دي- [(1)]

## د آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

چا چې قرآنِ کريم زده کړو، نورو ته يې وښودلو او پهٔ دې باندې يې عمل اوکړو، د قيامت پهٔ ورځ به قرآن د هغهٔ شفاعت کوي او جَنَّت ته به يې بوځي- [(2)]

---

[1] ... جلالين مع حاشيه صاوی، پاره:1،سورهٔ بقره،زير آيت:121،جلد:1،صفحه:106-

[2] ... المؤتلف والمختلف للدارقطنی، باب الخا، جلد:2، صفحه:830، دار الغرب الاسلامی-

# د قرآنِ کريم د زده کولو او ښودلو په باره کښې احکام

(1): دومره تجويد زده کول چې حروف په صحيح مخارجو سره ادا کړے شي او د غلط لوستلو نه بچ کړے شي فرضِ عين دے(يعني په هر چا ځان ځانله فرض) دے۔ (1)

(2):چې څومره قرآنِ کريم زده کول فرض دي، هغه همره قرآنِ کريم ښودل فرضِ کفايه دے۔ (2) (3): څوک چې حروف صحيح نۀ ادا کوي، د هغۀ د پاره صحيح زده کول واجب او د هغۀ د پاره شپه او ورځ کوشش کول لازمي دي د دې پورې چې صحيح يې زده کړي۔ (3) (4): که يو کَس قرآنِ کريم غلط لولي نو په اوريدونکي باندې واجب دي چې هغۀ ته ووائي، په شرط د دې چې هغه ته په وئيلو کښې د فاسد خطره نۀ وي۔ (4)

## د قرآنِ کريم د زده کولو او ښودلو فائدې

❁ قرآنِ کريم زده کوونکے ښودونکے بهترين اِنسان دے۔ (5) ❁ د قرآنِ کريم زده کولو ښودلو د پاره په د راجمع کيدونکو په زړونو باندې سکون او اطمينان نازليږي ❁رحمت هغوئي پټوي ❁ فرښتې په هغوئي باندې سورے کوي او ❁ الله پاک د فرښتو په ډله کښې د هغوئي ذِکر فرمائي۔ (6) ❁ د قرآنِ کريم د زده کولو فضيلتونه: ❁ د قرآنِ کريم يو آيت زده کول، د 100 رکعته نفلونو کولو نه افضل دے۔ (7) ❁څوک چې قرآنِ کريم زده کړي، په دې باندې عمل اوکړي، د قيامت په ورځ باندې به هغۀ ته د نُور تاج

---

1 … فتاوی رضویه، جلد6، صفحه:343۔

2 … عمدة القاری شرح صحیح بخاری کتاب الاجارة، باب ما یعطی فی الرقیة …الخ، جلد:8، صفحه:628، ماخوذاً۔

3 … بهارِ شریعت، جلد:1، صفحه:570، بتغیر قلیل۔

4 … غنیة المتملی، صفحه:498۔

5 … بخاری، کتاب الفضائل، باب خیرکم من تعلم القرآن وعلمه، صفحه:1299، حدیث:5027، ملخصًا۔

6 … مسلم، کتاب الذکر، باب فضل الاجتماع علی تلاوت …الخ، صفحه:1039، حدیث:2699۔

7 … سنن ابن ماجه، المقدمه، باب فضل من تعلم القرآن وعلمه، صفحه:48، حدیث:219۔

پۀ سر کولے شي او ❀ د هغۀ مور او پلار ته به قيمتي لباس اغوستلے شي-[1] ❀ **د قرآنِ کريم د زده کولو فضيلتونه:** ❀ اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قرآنِ کريم ښودونکو د پاره دعا وفرمائيله: اے الله! (قرآنِ کريم) ښودونکي وبخښې، د هغوئي عمرونه ډير کړې او هغوئي ته د خپل عرش پۀ سوري کښې ځائے عطا کړې بے شکه هغوئي ستا د نازل کړے شوي کتاب تعليم ورکوي-[2] ❀ د قرآنِ کريم ښودونکي د پاره د زده کوونکي نه دوه چنده ثواب دے ❀ قرآنِ کريم زده کوونکے چې د څو پورې تلاوت کوي، ښودونکي ته به ثواب ميلاؤيږي-[3] ❀ چا چې قرآنِ کريم يا يو سُنَّت وښودو، د قيامت پۀ ورځ باندې به هغه ته داسې اَجر ورکولے شي چې د هغې نه بهتر به د چا د پاره نۀ وي-[4]

## د قرآنِ کريم نه د لرې والي نقصانات

❀ د قرآنِ کريم نه لرې والے د ډير لوئي فضل نه د محرومۍ سبب دے ❀ د قرآنِ کريم نه د مخ اړوونکي د پاره په دنيا او اخرت کښې تنګ ژوند او ❀ هغه به د قيامت پۀ ورځ ړوند راپاڅولے شي-[5] ❀ خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: پۀ کوم زړۀ کښې چې قرآن نۀ وي، هغه د وران کور پۀ شان دے-)[6] ❀ د قرآنِ کريم نه لرې والے زړۀ کمزورے کوي ❀ د قرآنِ کريم نه لرې والے د زوال او د ښکته والي سبب دے-

---

[1] … مستدرك للحاكم، كتاب فضاءل القران، باب من قرء القرآن وتعلمه ...الخ، جلد:2، صفحه:278، حديث:2132-

[2] … الموضوعات لابن جوزی، حدیث فی الدعا للمعلمین، جلد:1، حدیث:221-

[3] … جمع الجوامع، جلد:7، صفحه:282، حديث:22455،22456-

[4] … جمع الجوامع، جلد:7، صفحه:282، حديث:22454-

[5] … تفسير صراط الجنان، پاره:16، سورة طه، زير آيت:124، جلد:6، صفحه:262، ملخصًا-

[6] … سنن ترمذی، کتاب فضائل القرآن، صفحه:677 حديث:2913-

# د قرآنِ کریم د زده کولو ښودلو د ذِهن جوړولو طریقه

❁ د قرآنِ کریم د زده کولو ښودلو فضیلتونه پۀ ذِهن کښې ساتئ ❁ د قرآن او د قرآنِ کریم د تعلیم عام کولو جذبه پیدا کړئ ❁ د قرآنِ کریم سره محبت او تعلق مضبوط ساتئ! دې د پاره روزانه څۀ نا څۀ د قرآنِ کریم تلاوت کوئ ❁ د قرآنِ کریم د زده کولو ښودلو پۀ باره کښې د صحابۀ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم واقعې لولئ! چې څنګه هغوئي خپل ټول ژوند د قرآنِ کریم زده کولو ښودلو د پاره وقف کړے وو ❁ د دعوتِ اِسلامي د دِیني ماحول سره تړون پیدا کړئ! د دې سره به اِنۡ شَآءَ اللہُ الۡکَرِیۡم! د عِلمِ دِین د حاصلولو، د قرآنِ کریم د صحیح لوستلو ښودلو او پۀ دې باندې د عمل کولو جذبه پیدا شي ❁ د دعوتِ اِسلامي پۀ 12 دِیني کارونو کښې خپله حصه شامله کړئ! خاص طور دِیني کار پۀ **مدرسة الـمدینه (بالغان)** کښې لولئ او که چرې ښودلے شئ نو ښایئ هم -

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** نن مونږ د نیک عمل نمبر: 18 مطابق د **قرآنِ کریم د زده کولو او ښودلو** پۀ موضوع باندې ګڼه ور معلومات حاصل کړل، نیت اوکړئ چې پۀ **مدرسة الـمدینه (بالغان)** کښې به داخله اخلو او د قرآنِ کریم صحیح لوستل به زده کوو او څوک چې ښودلے شي هغه نیت اوکړئ چې پۀ **مدرسة الـمدینه (بالغان)** به سبق ښائي- اِنۡ شَآءَ اللہُ الۡکَرِیۡم! الله پاک دې د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د ښودلو او زده کولو پۀ حلقو کښې یادولو والا دُعا

## پۀ اِیمان باندې د خاتمې دُعا

اَللّٰھُمَّ اِنَّا نَعُوۡذُ بِكَ مِنۡ اَنۡ نُّشۡرِكَ بِكَ شَیۡـًٔا نَّعۡلَمُہٗ، وَنَسۡتَغۡفِرُكَ لِمَا لَا نَعۡلَمُہٗ

**ترجمه:** اے **الله** پاکه! مونږ ستا پناه غواړو د دې خبرې نه چې څهٔ څيز ستا شريک جوړ کړو قصداً عمداً او مونږ بخښنه غواړو ستا نه د هُغه (شرک) کوم چې مونږ نهٔ پيژنو-

## د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

### د روزانه 56 نيک اعمال:

**(1)**: آيا ښه ښه نيتونه مو کړي؟ **(2)**: آيا پينځه واړه نمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ **(3)**: آيا د هر نمونځ نه مخکښې مو د نمونځ دعوت ورکړے؟ **(4)**: آيا د شپې مو سُوْرَةُ الْمُلْك لوستلے يا اوريدلے؟ **(5)**: آيا د هر نمونځ نه پس مو آيةُ الكرسی، تسبيحِ فاطمه، سُورَةُ الاِخلاص لوستلے؟ **(6)**: آيا د کنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلې يا اوريدلې؟ **(7)**: آيا د شجرې اوراد مو لوستلې؟ **(8)**: آيا 313 کرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ **(9)**: آيا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلې؟ **(10)**: آيا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلې؟ **(11)**: آيا د فضول نظر نه پهٔ بچ کيدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ **(12)**: آيا 12 منټه مو د مکتبة المدينه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ **(13)**: آيا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ **(14)**: آيا د غصې علاج مو کړے؟ **(15)**: آيا خپله جائزه مو اخستې؟ **(16)**: آيا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ **(17)**: آيا پهٔ تاسو او جي وئيلو سره مو خبرې کړې؟ **(18)**: آيا پهٔ مکتبة المدينه بالغان کښې مو لوستلې، يا مو ښودلې؟ **(19)**: آيا د ماسخوتن د جَمعې نه پس پهٔ دوو ګينټو کښې کور ته رسيدلې يئ؟ **(20)**: آيا دوه ګينټې مو پهٔ ديني کارونو باندې لګولې؟ **(21)**: آيا د سحر د نمونځ د پاره مو راپاڅول کړي؟ **(22)**: آيا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ **(23)**: آيا پهٔ کور کښې مو درس ورکړے؟ **(24)**: آيا د جومات درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ **(25)**: آيا

د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ **(26)**: آیا د زلفو د پریښودو پهٔ سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ **(27)**: آیا یو موټے ګیره مو پریښودې؟ **(28)** : آیا د ګناه کولو پهٔ شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ **(29)**: آیا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ **(30)**: آیا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ **(31)** : آیا څهٔ نا څهٔ مو پهٔ سُنَّتو باندې عمل کړے؟ **(32)**: آیا د ماسپښین سنتِ قبلیه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړې؟ **(33)**: آیا تهجد یا صلوٰةُ اللیل مو ادا کړې؟ **(34)**: آیا د اَوَّابِیْن یا اِشْرَاق او څاښت نـمونځ مو کړے؟ **(35)**:آیا د مازدیګر یا د ماسخوتن سُنتِ قبلیه مو ادا کړې؟ **(36)**: آیا پهٔ 12 دیني کارونو کښې مو د یو دیني کار ترغیب ورکړے؟ **(37)** :آیا د نورو نه غوښتلے شوي څیزونه خو مو اِستعمال کړي نهٔ دي؟ **(38)**: آیا د دروغو، غیبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ **(39)**: آیا د څهٔ وخت د پاره مو مَدَني چینل کتلے؟ **(40)**: آیا ذاتي دوستي خو مو نهٔ ده کړې؟ **(41)**: آیا پهٔ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ **(42)**: آیا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نهٔ دي وئیلي کوم چې زړهٔ نهٔ دي منلي؟ **(43)**: آیا د صفایۍ او سلیقې خیال مو ساتلے؟ **(44)**: آیا د مسلمانانو د عیبونو پرده مو ساتلې؟ **(45)**: آیا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسیر اوریدو /بیانولو پهٔ حلقه کښې شرکت کړے؟ **(46)**: آیا د څهٔ نا څهٔ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئیلې؟ **(47)**: آیا چوک درس مو ورکړے یا اوریدلے؟ **(48)**: آیا مور پلار او پیر او مرشد ته مو ایصالِ ثواب کړے؟ **(49)**: آیا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ **(50)**: آیا د ټریفک د قوانینو پابندي مو کړې؟ **(51)**: آیا د تنظیمي طریقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ **(52)**: آیا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ **(53)**: آیا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ **(54)**: آیا د ټوقو ټقالو، خندا، زړهٔ ازارولو او پهٔ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ **(55)**: آیا

عمامه شريف مو په سر کړې؟ (56): آيا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدينه کارکردګي

✿ په ليکلو خبرې کول 12 کرته ✿ په اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ✿ په سترګو کښې د سترګو اچولو بغير خبرې 12 کرته-

## هفته وار 9 نيک اعمال

(57): آيا د اِسلامي خوئيندو هفته وارې اِجتماع ته مو څوک اِسلامي خور د کور نه ليږلې؟ (58): آيا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې يا اوريدلې؟ (59): آيا په هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آيا يومِ تعطيل اِعْتِکَاف مو کړے؟ (61): آيا د مريض يا غم زپلې تپوس يا غم خورې او د چا په وفات کيدو مو تعزيت [لاس نيوه] کړې؟ (62): آيا په هفته کښې مو په يوه ورځ کښې روژه نيولې؟ (63): آيا هفته واره رساله مو لوستلې يا اوريدلې؟ (64): آيا علاقائي دوره مو کړې؟ (65): آيا محکښې راتلونکې او اوس د نۀ راتلونکو اِسلامي ورونړو مو د ديني ماحول سره تړون پيدا کړو؟